# کله چې الله تعالی له یوه بنده سره مینه وکړي، نو جبرائیل راوغواړي او وفرمایي: زه د فلاني سره مینه لرم، نو ته هم ورسره مینه وکړه، وایي: نو جبرائیل هم ورسره مینه وکړي

له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «کله چې الله تعالی له یوه بنده سره مینه وکړي، نو جبرائیل راوغواړي او وفرمایي: زه د فلاني سره مینه لرم، نو ته هم ورسره مینه وکړه، وایي: نو جبرائیل هم ورسره مینه وکړي بیا په آسمان کې غږ وکړي او وایې چې: الله تعالی له فلاني سره مینه لري، نو تاسې هم ورسره مینه وکړئ، نو د آسمان خلک هم ورسره مینه وکړي، او وروسته ورته د ځمکې په خلکو کې هم محبوبیت پیدا شي، او کله چې یو بنده بد وګني، جبرائیل را وبولي او وفرمایي: زه فلانی بد ګڼم ، نو ته یې هم بد وګڼه، نو جبرائیل یې بد وګڼي، بیا د آسمان په خلکو کې غږ وکړي چې: الله تعالی فلانی بد ګڼي، نو تاسې یې هم بد وګڼئ، نو د آسمان خلک یې هم بد وګڼي، او د ځمکې په خلکو کې به هم ورته کرکه پیدا شي».

[صحیح دی] [صحیح مسلم]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې کله الله تعالی یو مؤمن بنده خوښ کړي؛ هغه چې د هغه د امرونو تابع وي او له نواهیو څخه یې ډډه کوي، نو جبرائیل ته اواز وکړي چې: الله تعالی له فلاني سره مینه لري، نو ته ورسره هم مینه وکړه. نو د ملایکو سردار؛ جبرائیل علیه السلام یې خوښ کړي او محبت یې ورسره پیدا شي، بیا جبرائیل د اسمان په ملایکو کې غږ وکړي چې: ستاسو رب له فلاني سره مینه لري، نو تاسې هم له هغه سره مینه وکړئ، نو د آسمان خلک به یې خوښ کړي، او بیا ورته د مؤمنانو په زړونو کې په محبت کولو، هغه ته لیواله کېدلو او ورڅخه په راضي کېدلو سره مینه پیدا شي. او که الله تعالی له یوه بنده نه کرکه وکړي، نو جبرائیل به را وغواړي (ورته به ووایې چې): زه له فلاني څخه کرکه کوم، نو ته هم تري کرکه وکړه، نو جبرائیل به یې هم بد وګڼي، بیا جبرائیل د آسمان په خلکو غږ وکړي چې: ستاسو رب له فلاني څخه کرکه کوي، نو تاسې هم تري کرکه وکړئ، نو د آسمان خلک هم له هغه نه کرکه وکړي، او وروسته د مؤمنانو په زړونو کې د هغه لپاره کرکه او بد ګڼنه پیدا شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6458